شریعت
SHARIAT WEEKLY

اوونیز

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

لمړی کال پنځه شپېتمه ګڼه پرله پسې (۲۵۵) یکشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال د جمادي الاول (۲۵) د۱۳۷۸هـ ش کال د وږي دمیاشتې(۱٤)د۱۹۹۹میلادي کال د سپتمبر (۵)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهېزګاری) ته .
(سورة المائدة)

قوماندان بسم الله

همراه با ۱۵۰ تن افراد مسلح خویش به امارت اسلامي افغانستان پیوست

سایر قوماندانان مخالف نیز باید بیش از این باعث ادامه جنگ و ویراني در کشور نگردند

قوماندان بسم الله

به سلسله پیوستن قوماندانان مخالفین بر نیرو هاي مجاهدین اردوي اسلامي پیروز نیز یك تن از قوماندانان مخالفین با یکصدو پنجاه تن افراد مسلح خویش در مربوطات ولسوالي بګرام ولایت پروان به امارت اسلامي افغانستان پیوست .

یك مسؤول نظامي به آژانس اطلاعاتي باختر گفت : قوماندان بسم الله که در گذشته درقریه هاي خانقاه و خواجه بلند ولایت کاپیسا علیه اهداف والاي امارت اسلامي قرار داشت اخیراً بادرك بي مفهوم دانستن جنگ و مخالفت علیه نظام اسلامي صف متلاشي شده مخالفین را ترك گفته و با یکصدو پنجاه تن از افراد مسلح خود به نیرو هاي مجاهدین اردوي اسلامي پیوست .

موصوف با مسؤولین نظامي امارت اسلامي در منطقه تعهد سپرد که متعهد آماده هر گونه همکاري و فداکاري در جهت تحقق آرمانهاي والاي نظام اسلامي در کشور میباشد.

موصوف به سایر قوماندانان مخالف توصیه نمود که بیش ازین باعث ادامه ص ٤

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

طي ملاقات با محترم معین وزارت امور خارجه

معاون کمیته ICRC در کابل از همکاري امارت اسلامي ابراز خوشي نمود

معاون کمیته ICRC در کابل از همکاري امارت اسلامي افغانستان ابراز خوشي کرده و میگوید که کمیته ICRC در ساحه امارت اسلامي با اطمینان خاطر کار و فعالیت مي نماید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : محترم مولوي عبدالرحمن «زاهد» معین وزارت امور خارجه دیروز با شاغلي کرستوف لودي معاون و سرپرست کمیته ICRC در کابل روي یکه سلسله مسایل مورد علاقه بحث و تبادل نظر نموده و در ضمن معاون آن کمیته در ارتباط کار شان توضیحات داده گفت: ما یقین کامل داریم که امارت اسلامي افغانستان با کمیته ICRC همکاري نموده چنانچه این کمیته در ساحه امارت اسلامي با اطمینان خاطر کار و فعالیت مي نماید و خواهان ص ٤

د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم سرپرست د هرات ولایت د ادیبانو او شاعرانو په غونډه کې :

له خپل توان سره سم د هیواد داسلامي فرهنګ د لا پیاوړتیا او ودې په لار کې د هر راز همکاري ژمنه کوو

لیکوالان او فرهنګیان باید د اسلامي نظام، خلکو او د هیواد د سترو ګټو په وړاندې خپلو رسالتونو ته متوجه وي

په هیواد کې د اسلامي امارت له پېنګښت سره فرهنګیانو ته د خدمت مساعد شرایط برابر شویدي

د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي پرون له غرمې وروسته د هرات ولایت د شاعرانو او ادیبانو په هغې غونډه کې ګډون وکړ چې ددغه ولایت د عامه کتابتون په تالار کې جوړه شوې وه .

له هرات نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه غونډه چې د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د ادبي ټولنې لخوا جوړه شوې وه له هغه وروسته چې د کلام الله مجید څو مبارك آیتونه ولوستل شول د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مفتي لطیف الله حکیمي او د ادبي ټولنې مسؤل محترم احمد ضیا رفعت په وار سره د هرات ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د فرهنګي ادبي او نشراتي فعالیتونو په باره کې هر اړخیزې معلومات وړاندې کړل .

وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست محترم ملا امیر خان متقي د هیواد د ادیبانو لیکوالانو ، شاعرانو او د نورو فرهنګي کارکوونکو د رول او رسالت په باره کې له محترمو وګړو او ارزښتناکي خبرې وکړې او زیاته یې کړه په هیواد کې د اسلامي امارت په پېنګښت سره فرهنګیانو او لیکوالو ته د خدمت مساعد شرایط برابر شویدي او باید له دغه شان فرصت نه په استفادې سره د اسلامي نظام، خلکو او د هیواد د لویو ګټو په وړاندې خپلو سترو دندو او رسالتونو ته متوجه وي او د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې فرهنګ او د هغه ارزښتونه ژوندي وساتي له دې پرته دنیوي او اخروي مسؤولیت به د هیواد د فرهنګیانو په غاړه وي.

د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم سرپرست زیاته کړه موږ له خپل ٤ مخ

اقوام مختلف ولسوالي وته پور ولایت کنر چهار جریب زمین را به دسترس آن ولسوالي قرار دادند

اقوام مختلف ولسوالي وته پور ولایت کنر اخیراً ساحه چهار جریب زمین را جهت اعمار تعمیر جدید براي ولسوالي وته پور بدسترس آن ولسوالي قرار داده اند.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت کنر خبر میدهد : مشران اقوام مرجان خیل، حاجي خیل، تاني خیل و زنګه خیل ولسوالي وته پور ولایت کنر اخیراً موازي چهار جریب زمین را طور داوطلبانه جهت اعمار تعمیر جدید ولسوالي وته پور در منطقه بروني بدسترس آن ولسوالي قرار داده اند بالمقابل محترم ملك محمد حسن کمال-زي ولسوال ولسوالي وته پور از این احساس نیك و علاقمندي خاص مشران اقوام متذکره در سهم ګیري و آبادي کشور ابراز قدرداني نمود.

د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالي :

عالمانو او سپین ږیرو د اسلامي امارت د مخالفینو پر ضد جهاد او مبارزه لازمه وګڼله

د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالي عالمانو او سپین ږیرو پرون دیوې پراخې غونډې په جوړولو سره یو ځل بیا د اسلامي امارت د مخالفینو پر ضد جهاد او مبارزه لازمه وګڼله او په دې باب یې خپل هر ډول تیاري څرګند کړ .

د لغمان له ولایت نه د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې غونډه کې چې ددغې ولسوالي په مربوطاتو کې د افغانستان د اسلامي امارت د مخالفینو د دښمنانه د سره د شهولو لپاره د تیاري په خاطر پرون د جهادي شخصیت محترم آغا صاحب مجددي په مشري او څه د پاسه څلوېښتو تنو جیدو عالمانو او د بېلا بېلو قومونو د استازو په ګډون جوړه شوې وه د قرآ عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو له لوستل کېدو وروسته د دولت شاه ولسوالي د توحیدو علماء محترم ...

کار ساختمان مسجد جامع رحمانیه ولایت سرپل هشتاد فیصد پیش رفته است

کار ساختمان مسجد جامع رحمانیه گذر شاهان ولایت سرپل که قبلاً آغاز گردیده است هشتاد فیصد پیش رفته است .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت سرپل خبر میدهد مسجد متذکره که در ساحه چهار جریب زمین از بودجه امارت اسلامي و-مساعدت مبلغ سه صدو چهل لك افغاني از طرف اهالي متدین آن ولایت اعمار میگردد در ساختمان آن چهل و دو اتاق درسي بخاطر تدریس طلباو سایر ملحقات ضروري در نظر گرفته شده که در آینده نزدیك مورد استفاده نماز گزاران و تدریس طلبا قرار خواهد گرفت.

از جریان کار مسجد شریف محترم ملا امان الله معاون ولایت سرپل دیدن نموده و در ضمن از مساعدت پولي اهالي آنجا ابراز قدرداني نمود.

بعد از چندین سال وقفه

نمایندگي ترانسپورت سکتور خصوصي در شهر کویته مجدداً فعال گردید

به تعقیب فعالیتهاي ترانسپورتي در کشور، نمایندگي ترانسپورت سکتور خصوصي مقیم کویته بعد از چندین سال رکود مجدداً فعال و آماده خدمات حمل و نقل گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : با فعال شدن نمایندګي کویته تسهیلات بیشتري براي تجار ملي و رانندګان وسایط در مسیر راه هاي کویته، چمن، بولدك، قندهار و سایر ولایات و شهر هاي کشور مبني بر انتقال اموال و امتعه مورد نیاز هموطنان ما فراهم گردیده و ص ٤

سیمینار رهنمودي و میتودیك استادان دوره اول و دوم پایان یافت

شریعت :سیمینار علمي و تخنیکي اصول تدریس استادان مدارس تعلیمات عمومي که بتاریخ ۱٤۲۰/۵/۱۰ در مدرسه ثانوي سید نور محمد شاه مینه براي مدت دو هفته از طریق بخش تعلیم و تربیه کمیته سویدن تحت اشراف و نظارت ریاست معارف ولایت کابل دایر گردیده بود، روز پنجشنبه مؤرخ ۱٤۲۰/۵/۲۲ طي محفلي ص ٤

په خیر خانه مینه کې :

د ام المومنین د جامع جوماتي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د ام المومنین حضرت حفصه بنت حضرت عمر فاروق «رض» د جامع جومات د بنسټ ډبره پرون د خیرخانې مینې په دریمه برخه کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه جومات چې د بنسټ ډبره یې د حج او اوقافو وزارت د لومړي معین محترم مولوي محمد سلم حقاني لخوا کېښودل شوه لجنة دعوت الاسلامیه موسسې په مالي مرسته د ځوارلس زره لګو افغانیو په لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړېږي چې په یوه وخت کې به پنځه سوه تنه لمونځ کوونکي پکې ځاي شي. ددغه جومات په جوړولو کې د استوګنې دوه خونې د اودسه ځای تشناب او نور ضروري ملحقات په پام کې نیول شویدي. ددغه جومات د بنسټ د ٤ مخ

تیم فوتبال مدرسه اخوت افغانستان - ترکیه حائز مقام اول گردید

در مسابقات تابستاني فوتبال ولایت جوزجان که اخیراً بین تیم هاي مختلف در چمن ورزشي شهر شبرغان راه اندازي شده بود تیم فوتبال مدرسه اخوت افغانستان - ترکیه حائز مقام اول گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از شهر شبرغان خبر داد : این مسابقات که ازچندي قبل در چمن ورزشي شهر شبرغان بین چندین تیم فوتبال ولایت جوزجان راه اندازي ٤ مخ

منار جام یکي از شهکار هاي باستاني تمدن اسلامي در کشور ماست

حوادث طبعي و جنگ هاي سال هاي اخیر به منار مذکور صدمات زیادي وارد نموده است

شریعت: منار جام که از جمله شهکار هاي باستاني تمدن اسلامي در کشور ماست و در دره جام ولسوالي شهرك ولایت غور موقعیت دارد منار مذکور در سال ۵۹۱ هـ ش در زمان سلطنت سلطان غیاث-الدین بن سام غوري به ارتفاع ٦۵ متر و ۳۰-سانتي متر و قطر اعظمي ۸ متر تعمیر گردیده، امروز نیز از منار هاي بي نظیري در جهان محسوب گردیده و هزاران ص ٤

د علی آباد روغتون محترم رئیس :

په روانی اونی کی به د عصبی جراحی او یورولوژی بنځینه وارډونه هم فعاله شی

هیله من یم چی د علی آباد روغتون اصلی ودانۍ ژر تر ژره بیا ودانه شی

قدرمنو لوستونکو! د هیواد د روغتیایی موسسو په هکله ستاسی د معلوماتو د لا زیاتوالی په خاطر مو دا ځل د علی آباد روغتون د فعالیتو په هکله څه معلومات را ټول کړی چی ستاسی پام ورته را اړوو :

د علی آباد روغتون په ۱۳۱۱ هـ ش کال کې تاسیس شویدی چی د افغانستان یو سابقه دار روغتون دی پخوا په دی روغتون کی د عمومی جراحی عصبی جراحی ، یورولوژی ، داخله ، سناتوریم او کوبالت برخي فعالي وی او مریضان بستر او تداوی کیدل خو له بده مرغه بدی د روسانو وخت کی د جنګ له امله د علی آباد روغتون تعمیر له منځه تللی او په ملیاردو افغانی خساره ورته رسیدلی ده او په ۱۳۷۲ کال کی د دغه روغتون د ملالی زیږنتون د نسایی بخش تعمیر ته مهاجر شوی او په کار یې شروع کړیده چی اوس هم په نوموړی ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

در حاشیه اعلان تشکیل حکومت خیالي مخالفین امارت اسلامي

اخیراً وسایل ارتباط جمعي جهان گزارش داد که گروهك شوراي نظار یکبار دیگر هوس تاج و تخت خیالي را در ذهن خود پرورانیده و اعلان نموده است که یك حکومت دیگر را در مقابل امارت اسلامي افغانستان که یگانه مثل واقعي تمنیات و-صداي مردم رنجدیده افغانستان مي باشدتأسیس مي نماید اینکه این اقدام تا مقدس و تا میمون گروهك نظار تا چه حد جامه عمل را خواهد پوشانید انگیزه این اعلان چه خواهد بود؟ چه نتایجي به بار خواهد آورد ؟ به ملت رنجدیده و مسلمان افغان چه نویدي را به ارمغان خواهد آورد ؟ فکتور هایي است که به طور خلاصه به شرح آن مي پردازیم.

تخست اینکه این نخستین اعلان تشکیل حکومت ص ۲

جانب اقوام متدین ولسوالي هاي گوسفندي و سنگ چارك :

طي اجتماع وسیعي اعمال مخالفین امارت اسلامي تقبیح گردید

مردم متدین ولسوالي هاي گوسفندي و سنگ چارك ولایت سرپل دیروز طي اجتماع وسیعي ضمن تقبیح اعمال مخالفین بار دیگر به همکاري قاطع و همه جانبه شان با امارت اسلامي افغانستان تاکید ورزیدند.

اجتماع متذکره که در ولسوالي گوسفندي ولایت سرپل به اشتراك محترم مولوي ولي جان والي ولایت جوزجان مسؤولین امارتي، قوماندان و ص ٤

در ولایت جوزجان :

به تعداد ۳۸۳۰ حلقه چاه کلوریشن گردید

به تعداد سه هزار و هشتصد و سي حلقه چاه و سه صدو نود حلقه حوض اخیراً در مربوطات ولایت جوزجان کلوریشن گردیده و زمینه استفاده بهتر آب آشامیدني براي باشنده گان آن ولایت تامین شده است.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : بالأثر توجه هیأت رهبري ولایت جوزجان اخیراً سه هزارو هشتصد و سي حلقه چاه ، سه صدو ص ٤

شریعت

دتأسیس کال　: ۱۳۷٤ هـ ش
　: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر　: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال　: ملیار «کاکړ»
دیوې گڼې بیه　: په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس　: (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب　: $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ　: دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

نیست که از طرف مخالفین امارت اسلامي افغانستان به راه انداخته شده بلکه قبل از این نیز اعلان تشکیل چندین حکومت را در جبل السراج ، مزار شریف هنگامیکه در سیطره این افراد لجوج بود، تخار و بامیان نیز نموده اند اما پروسیجر عملي آن فقط با چند مصاحبه و نشر خبر از رادیو هاي جهاني خلاصه گردید و عملاً در زمینه هیچ اقدامي صورت نگرفت که تحلیلگران و مفسرین وقایع سیاسي افغانستان علت عمده آنرا همانا اختلافات عمیق و نا باوري در صفوف مخالفین امارت اسلامي قلمداد نمودند، با توجه به این حقیقت در حالیکه مخالفین امارت اسلامي نمیتوانند در یك مسئله کوچك و در یك عمل ناچیز توافق نظر داشته باشند چطور میتوانند در یك عمل بزرگ همانند تشکیل حکومت، تعیین رئیس جمهور، صدراعظم وزراء و اعضا کابینه وحدت نظر داشته باشند آیا قتل و ترور عبدالرحیم غفورزي صدراعظم نام نهاد حکومت خیالي ناشي از همین اختلاف نبود ناظرین به این باور اند که این اعلان آنها راجع به تشکیل یك حکومت نیز همانند اعلانات پیهم سابق شان بي نتیجه و فقط به روي کاغذ خواهد ماند.

اما این نیز بعید از امکان نیست که باداران خارجي آنها این بار جدي تر شوند و طرح خود را بالاي آنها عملي سازد که از مسؤولیت و عواقب وخیم آن هیچگاه شانه خالي کرده نخواهند توانست زیرا این عمل به مشابه اقدام نخست راجع به تجزیه کشور خواهد بود، تحلیلگران سیاست مداران و مبصرین باور دارند که دشمنان اسلام و مخالفان تمامیت ارضي افغانستان از زمان طولاني به طرح و پلان تجزیه کشور ما مشترکاً کار و برنامه ریزي نموده اند و در ضمن اهداف متعدد شان میخواهند با تشکیل یك حکومت نام نهاد غیر قانوني، غیر آئیني و غیر افغاني این هدف خبیثه خود را تحقق بخشیده و تیشه را به ریشه وحدت ملي تمامیت ارضي کشور ما وارد نمایند.

مخالفین امارت اسلامي و دلباختگان قدرت، ثروت و چوکی باید با خود بیاندیشند که اعلان تأسیس حکومت آنها کدام درد ملت را در مان خواهد کرد آیا ملت از روز هاي حکومت چهارو نیم ساله آنها آنطور خاطراتي ندارند که به سمع داستان هاي آن موي انسان راست میشود، اگر ملت از آنها بپرسند که در دوران زمامداري شان به التیام کدام جرحه ملت پرداخته اند، کدام درد ملت را مداوا کرده اند، کدام آرمان و آرزوي شهید بیوه و یتیمي را بر آورده ساخته اند ؟ چه پاسخ خواهند داشت؟ حقیقت الامر این است که ملت آنها را ازموده اند و از موده را آزمودن خطاست و هیچگاه مورد اعتماد ملت قرار نخواهند گرفت گرچه بعضي از سیاست مداران این اقدام آنها را یك معروضه در مقابل واکنش بعضي از کشــور هاي جهان به این ترتیب که بعضي کشور هاي جهان به حقـانیت امارت اسلامي پي برده اند و این حقیقت را درك کرده اند که امارت اسلامي نماینده واقعي مردم افغانستان میباشد که از پشتواني مردم افغانستان بهره مند و به شمول مرکز کـشور بیشتر از نود و پنج فیصد از خاك افغانستان حاکمـیت دارد که با قبول این واقعیت کرسي افغانستان در ملل متحد باید به امارت اسلامي افغانستان داده شود حالا که مخالفین امارت اسلامي تحرکـاتش را در جلسات ملل متحد راجع به سپردن چوکي افغانستان براي امـارت اسلامي مي بینند به خاطر بي اثر نمودن این تلاشهاي بعضي از کشور ها هیاهویي را براه انداختند تا نشـان دهد کـه آنها نیز حکومت و کابینه دارند در حالیـــکه در عمل اثري از آن موجود نیست.

ما به مخالفین امارت اسلامي افغانستان میگوییم که بیشتر از این ملت رنجدیده خود را به خاك و خون نکشانند، و عملي را انجام ندهند که باعث شرمنده گي و رسوایي دنیا و آخرت شان گردد آنها باید بفهمند که ملت غیور افغانستان دیگر آن ملت به خواب رفته نیست که هر کس با طبع و میل خود آنها را استعمال کنند با آنها عوض گوش دادن به طرحهاي نا موفق و خصمانه به مقابله اسلام به آغوش ملت خویش رجوع کنند و به یاري ملت و امارت اسلامي افغانستان به مقابله به دشمنان کیش میهن، و فرهنگ ما بپردازند. آنها باید از گذشته هاي اسفبار عبرت گرفته دوست و دشمن خود را بشناسند، شعار هاي نا مقدس و پر عداوت را تشخیص نمایند مخالفین امارت اسلامي باید ثابت سازند که فاقد شعور سیاسي و احساس ملي نیستند و دشمن را از دوست تفکیك کرده میتوانند آنها باید به جاي پناه بردن به بیگانگان دست با امارت اسلامي داده و براي احیاي مجدد کشور، حفظ وحدت ملي ، اخوت اسلامي تمامیت ارضي و استقلال سیاسي میهن بکوشند در غیر آن ملت افغان و تاریخ افغانستان آنها را نخواهد بخشید.

ما - اسلام و غرب

وحید «مژده» ---- قسمت اول

آدمي از بدو خلقت پیوسته در برابر طبیعت سر شورشگري و عصیان داشته است. تحرك و پیشرفت جامعه انساني از سوداي سیطره بر طبیعت مایه مي گیرد، رام کردن سرکشي هاي طبیعت و تحت کنترول در آوردن قانونمندي هاي آن، مبارزه مستمر انسان بر پهنه، این خاك بخاطر زیستن و بهتر زیستن است.

مواهب و منابع طبیعت وافر و لا محدود نیست و همه چیز را نمیتوان چون هوا رایگان بدست آورد بنابر این هم چنگ انداختن به قانونمندي هاي طبیعت به منظور تحت کنترول در آوردن آن به نفع انسان مستلزم بر نامه ریزي است و هم استفاده مثمر از منابع سرشار نیازمند داشتن پلان و برنامه دقیق.

در چنین تحرك و تلاش طبیعتاً خرد یا عقل انساني دخالت اولي و اساسي دارد. تثبیت هدف و تهیه و تدارك وسایل لازم براي رسیدن به آن محتاج رهبري خرد یا Reason است اما عقل یا خرد داراي دو بخش در هم پیچیده است که یکي را عقل عیني یا Objective Reason و دیگري را عقل ذهني یا Subjective Reason مي نامند.

خرد ذهني به وسایل براي رسیدن به هدف نظر دارد و برایش حسن و قبح هدف مطرح نیست. بعباره دیگر لازمه خرد ذهني نظر داشتن به عقلاني بودن ابزار براي رسیدن به هدف است و کاري به درستي یا نا درستي هدف ندارد.

خرد ذهني اعمال خود را با ارزش ها هماهنگ نمي سازد و اعمالي است مبتني بر عقل اما بیگانه با ارزش که در مغرب زمین همین دانش تهي از ارزش، سنگ بناي تمدن بشر و رمز سلطه بر طبیعت تلقي میشود. سلطه گري عقل ذهني بر اندیشه غربیان عکس العملي در برابر تك روي هاي لجام گسیخته ارباب کلیسا در قرون وسطي است که بال و پر اندیشه نیازمند فضاي باز تري براي پرواز کردن بود ولي کلیسا خرد انساني را قرنها در عقب حصاري از پندار هاي واهي معطل کرد.

اما خرد عیني Objective Reason در پهلوي ترجه به عقلاني بودن وسایل و هدف به ماهیت هدف نیز توجه دارد و هدف و وسایل را با معیار ارزش ها محك مي زند و چندو چون آنرا از سر مسؤولیت و تعهد به ارزش ها مورد ارزیابي قرار میدهد و براي رسیدن به هدفي هر چند نیکو و پسندیده استفاده از وسایل زشت و نکوهیده را توصیه نمي کند و بکار نمي گیرد.

تسخیر طبیعت را با تکریم انسانیت در تضاد نمي بیند و کرامت انساني را در پاي تسلط بر طبیعت قربان نمي کند.

اما اگر نیك بنگریم انسان در پیکار خویش بخاطر سلطه بر طبیعت نیروی عقل خود را به تمامیت بکار نگرفته و خرد ذهني اش درین پیکار بیشتر میدان دار عرصه نبرد بوده است به همین علت هر چند انسان توانسته در راه سلطه بر طبیعت به موفقیت هاي بزرگ دست یابد اما در جریان این تلاش پر شتاب بسیاري از ارزش هاي والاي انساني را نیز به فراموشي سپرده است .

آرنولد -ج - توینبي مؤرخ شهیر در برابر این استدلال که تکنالوژي توانسته است انسان را خوشبخت بسازد میگوید :

«نقص این استدلال در اینست که یك حقیقت حیاتي را از نظر دور میدارد : اینکه انسان فقط با نان زندگي نمي کند حد اقل سطح زندگي بشر هر قدر هم بالا برود او را از تقاضاي عدالت اجتماعي بي نیاز نخواهد کرد و توزیع نا مساوي ثروت هاي این دنیا بین یك اقلیت صاحب امتیاز و یك اقلیت کم نصیب ... بر اثر آخرین اختراعات انسان غربي به یك بي عدالتي غیر قابل تحمل مبدل گشته است ...»

ویل دورانت زنگ خطر را جدي تر بصدا در مي آورد :

« در جوامع مترقي تمرکز ثروت ممکن است بحدي برسد که نیروي عدوي بینوایان با نیروي استعداد ثروتمندان انگشت شمار برقابت برخیزد. آنگاه این موازنه بي ثبات وضعي حاد و خطرناك بوجود مي آورد. تاریخ با چنین وضعي به کرات مراجه شده است و حاصل آن یا توزیع دو باره ثروت بدست قانون بوده است و یا توزیع فقر بدست انقلاب »

در جوامع سرمایداري با وجود پیشرفت هاي شگرفت در تولید وسایل مادي و رفع بسیاري از نیاز هاي مادي افراد جامعه رابطه مبتني بر عقل میان انسان، جامعه وصنعت بر قرار نیست و این جوامع هنوز از چنگال نظام هاي اقتصادي و اجتماعي بي اعتنا به ارزش هاي معنوي نجات نیافته اند. توسعه نا همگون اقتصاد موجب گردیده تا تولید ماشیني انبوه از نیازمندي هاي این جوامع فرا تر رود و تلاش براي تصاحب و اشغال بازار هاي جدید بخصوص در کشور هاي عقب مانده، کشور هاي ضعیف را در معرض تهدیدات مختلف از طرف کشور هاي صنعتي قرار داده است زورمندان بخاطر بدست آوردن مواد خام به قیمت نازل و فروش فر آورده هاي صنعتي به قیمت گران تنها به تهدید و جنگ و ندان نشان دادن اکتفا نمي کنند بلکه گاهي که منافع شان اقتضا نماید از لشکر کشي و جنگ ابایي ندارند. دامن زدن به آتش جنگ براي فروش جنگ افزار پایین آوردن کیفیت تولیدات صنعتي براي تسریع استهلاك آن، ایجاد نیاز هاي کاذب و نیز اعمال نفوذ در تصمیم مصرف کننده از راه تغییر مواد از جمله صد ها ترفندي است که در کشور هاي صنعتي بکار گرفته میشود تا چرخهاي کارخانه ها از تحرك باز نماند.

اعطاي قرضه و کمك هاي اقتصادي به کشور هاي توسعه نیافته و سرمایه گذاري در چنین کشور ها از سوي کشور هاي صنعتي و انحصارات چند ملیتي پدیده بعد از جنگ دوم جهاني است. دو دلیل عمده موجب صدور سرمایه از کشور هاي صنعتي به کشور هاي توسعه نیافته میشود : نخست تمرکز شدید سرمایه در داخل کشور صنعتي به مرحله اشباع مي رسد که تولید را دچار محدودیت ساخته و نرخ بهره را در داخل کاهش میدهد. در چنین حالتي است که بکار انداختن سرمایه در خارج از مرز هاي ملي جهت افزایش سود را ضروري مي سازد. زیرا استفاده از مواد خام و نیروي کار ارزان بي اثر ساختن محدودیت هاي گمرکي کشور میزبان ، استفاده از معافیت هاي مالیاتي و سایر تسهیلات و از میان بردن احساسات ملي که نسبت به ورود امتعه از خارج حساسیت منفي نشان داده میشود (، در حالیکه نسبت به واردات صنایع سنگین و کارخانه ها چنین حساسیت وجود ندارد بلکه بر عکس موجیب احساس غرور کاذب میگردد) سرمایه گذاري در خارج سودمند تر است.

ادامه دارد

نوی نړیوال نظـــام او اســـلامی نړۍ (۱)

عصمت الله

په اوسنیـــو نړیوالو اړیکو کې د نوی نړیوال نظام اصطلاح د خلیج د جنګ نه وروسته پیل شوه عام نظر دا دی چې د خلیج په جنګ کې د عـراق د مـاتې نه وروستـه، امـریکې د نړیوال نظام نقشـه وړاندې کـړه، لاکن په حقیـقت کې د امریکې په خـارجه پالیسـی کې د نوی نړیوال نظام تصور هغه وخت راپورته شو چې روسیې او امریکې د ژنیو معاهده لاسلیک کړه د ژنیو په معاهده د لاسلیک سره سم روسیـه د سوړ جنګ په مسـابقه چې څلویښت کاله جاری وه ، ډیره پاته راغله او امریکا د یوازنی فـاتح په توګه په نوی دور کې داخلـه شوه همـدا راز په نړی کې د دوه قطبی نظام په ځای واحـد نظـام را مینځ ته شو او امریکې د نوی نړیوال نظام تر سیـــوری لاندی په نړی باندی د ځانګړی حکمرانی کولو لپاره هڅې پیل کړی، په بله وینا د نوی نړیوال نظام څخه د امریکی مطلب هغـه خـارجه پالیسـی ده چې د هغی له مخی غواړی د ټولی نړی نظام د امریکې د عسکری، سیاسی او اقتصادی ګټو او ترجیحاتو تابع وګرځوی او په هـمدی ترتیب تر ډیری مودی د نړیوال واحد قدرت په توګه د نړیوالی سرمایه داری او استـثـمـار حـفـاظت وکړی. د نړیوالو نظامو لرغونی پس منظر :

۱ - د اســلام د ظهـور نه مخکی نړیوال نظامونه :

د امریکې د کشف نه ډیر مخکی، کـه څیری د شپږمی عیسوی پیړی ته را پدیخوا د نړی تاریخ وڅیـړو ، نو څرګنده به شی چې پدی پیړی کی د نړی دوه ستـر سلطنتـونه روم او فـارس د خو نړیو جګړو په بڼه کې د یوه او بل په مـقـابل کی ولاړ وو هر فـاتح سلطنت به د جګړی نه وروستـه یو نوی نړیوال نظام جاری کاوه چې د هغه له مخی به بې واړه دولتونه خپل تابع ګرځول.

د رسول اکرم «ص» د بعثت په وخت کی ، په دنیـا کی د ملوکـیت او پاچاهی دوره وه د عربو د ټاټوبی جنوبی برخه د حبش سلطنت په لاس کی وه، او ختیزه برخه یې فـارس تر ځیټی لاندی کړی وه پداسی حال کی چې په شمـالی برخه یې د روم سلطنت قابض و د عربو خاوره د وحدت په ځای په څو خپلواکو قبیلو ویشل شوی وه هغــه وخت په نړی کی د دوو قـدرتونو نظام مـسـلط و او د روم او فـارس دوو لویو سلطنتونو د دغه قدرت توازن ساتلی و خو دغه نظام بیخی ناکام او نړیوالـه سوله یې نشـوای تأمینولی ، ځکه چې د دغـو سلطنتـونو نړیوال نظام په عدالت ، سوله او برابری ولاړ نه و بلکی د سلطنت په لا پراختیا او د قدرت په هوس ولاړ نظام و .

۲ - د حجة الوداع خطبه او اسلامي نړیوال نظام :

د نړی پدغـو حالاتو کی رسول اکرم «ص» مبعوث شو : هغوی د ۲۳ کلنو هڅو وروسته یوه داسی ټولنه جوړه کړه چې ترقیامته پوری د تقلید وړ ده او د ټولی نړی د لارښوونی لپاره یې یو نړیوال نظام جاری کړ چې رسمی اعلان یې په خطبه حجة الوداع کی وکړ رسول اکرم «ص» وفرمایل خلکو! خبر دار اوسئ پخوانی نړیوال نظام چې په استثمار ، ظلم ، نا انصافی ، جبر او تشدد باندی ولاړ و هغه نن پای ته رسیری هغه زه د خپلو قدمونو لاندی کوم او انسانی کائناتو ته نوی نړیوال نظام ورکوم.

مقام شهید

عـشق را کـون و مکان دیگر است
آسـمان و کـهکشان دیگر است
در حـریم پاکـبازان ازل
مـحفل رونقگران دیگر است
پیروي نفس دون آنجا کجاست
ابتلاء و امـتحان دیگر است
از هواي اهریمن نامي مـبر !
آن مـقام را کـیف و کـان دیگر است
مـاوراي زندگي بي خـودي
ساز و سازمان و جهان دیگر است
مـاسوي الله و تقاضاي از آن
کـار دونان و کـسان دیگر است
جـاي پاي پیرو ابلیس را
نیست آنجا سازمان دیگر است
مـوترو چاکـر نمي گنجد در او
آن صـراط داعیان دیگر است
از شـهیدان رمز این معني بجوي
زانکه ایشان را کیان دیگر است
عشق را ایشان شعار خود کنند
پیشه و کـسب عنان دیگر است
«کشته گان خنجر تسلیم را
هر زمان از غیب جان دیگر است»
هر چه میجویي ز طاغوت دور جوي
راه مـؤمن را نشان دیگر است
نور را در پیش گـیرو راه رو
هر زمـان است این زمان دیگر است

حماسي راپاروه

چـیـغـه د غـیـرت شـه پرگني راپاروه — پـه زړونـو کې جـذبې او ولولې راپاروه
لاس په توره باندي کېږده مـلاله راته وابي — مـیـوند ته ایوب خـان شـه حـماسي راپاروه
تاریخ د پاني پتۍ بدالیـانو مي هـیـر نکړي — شـهـاب شـه په ډیلي کې زلزلې راپاروه
توري شېې زمـوږ په اولسـو باندي سـیا شوي — اي د سـولي لـمـره ښې ورمې راپاروه
«ملنګه» که حق غواړي له موسي سره یو ځاي شه
فـرعـون ته روډ نیل څپې څپې راپاروه

ملنګ

د شعر او ادب

الهی !

د لسغ

الهي این شـهیـدان وطن را
صـنـوف ضـربان بت شکن را
اگـر در مـیدهٔ فـضلت دهي جـاي
بود شـور دیگر این انجـمن را
الهي راه بـیـروزي دراز هست
اگـر تو همـرهي ره هموار است
هر آن ملت کـه تائـیدت نـدودي
به دنیـا آن جـماعت سـر فـراز هست
الهي تشنه را آب حـیـاتي !
به بیگار ظـیـر مـردان ثبـاتي
به جنگ افـتـاده گـان ظلم و ظلت
فـرصت از غـیب اسـباب نجـاتي

ما مه هیروي

نور محمد لاهو

اي د وریځو ښایسته سپیني کوچي
ما هم خپل دغه سپینکي کفن کي تاو کړه
ما گناهکار درسره واخله
جګي جګي سپیني وریځي !
چي خداي«ج» ماته هم راکړي
ستا د سترګو په شان سترګي

* * *

ګلابه ! ته په څلورمي د ژوندون دي
چي د باد په شني ببړي کي
جنازه دي د ځواني وړه
ګوره زه درنه هېر نه شم
زما هم ددي ژړګي ورانه کېږدي کي

خوم کال دي بو ګل مې دي

* * *

آسمانه!
کله چي شين کيږي
ګوره سترګي مي رانه کړي !
ځکه ستا د رنګ په شاني
ښکلي سترګي مي دیار دي

* * *

هاي !
د پسرلي مسته بارانه!
ته په خپلو سپینو لښتو
په لږو وریښمینو لښتو
د ژوندون توري سندري مي کړه غبرګي
له لویدلو سپیرو شنا ختو

د افغانستان د خپلواکی د بیرته اخستلو د اتیایمی کلیزی په مناسبت د چارو دعمومی اداری د مرستیال محترم ملا محمد حسین مستسعد وینا

نېټه ۱٤۲۰/۵/۸ هجری قمری ۱۳۷۸/۵/۲۸ هجری شمسی کابل - افغانستان

پرلپسې

د افغانستان د خپلواکی په ګټلو کی د علماو لارښونه او د هغوی اثرات

ځرنګه چې د حضراتو کرامو نفوذ زیات وو نو د هغو سیمو ټولو مسلمانو طالبانو او غیور اولس د هیواد د دفاع لپاره ملاوی وتړلی، او ددې په حسن تدبیر او د نادرشاه په اخلاص او له علماو سره د مشوری په وجه د افغانستان دا لښکر د انګریزانو په زړونو کی رعب واچاوی او یو په بل پسې یې ماتی وخوری د مسعودو او وزیرو مجاهدین او علما هم ورسره یو ځای شول سپین وام میران شاه، او ټل یې فتح کړل سره له دې چې انګریزی قواوی ډیری منظمې او منسجمې وی او زیات نظامی امکانات یې لرل خو د افغانستان د میړنی اولس د مقابلې توان یې له لاسه ورکړ، که چیری امان الله خان له انګریزانو سره د متارکې اعلان نه وای کړی نو په دې کی شک نه و چی دا قواوی او لښکری به د پنجاب تر سرحده رسیدلی وای او د افغانستان لپاره به یې لویه سوبه تر لاسه کړی وای ، د جنوبی په محاذ کی د قربانیو په ورکولو سره نور المشایخ علیه رحمه او شمس المشایخ «رح» ته د امان الله خان لخوا ځخه د نور المشایخ او شمس المشایخ القاب ورکړل شول، او د هغوی مجاهدی او غزاګانی وستایل شوی.

د شرقی زون په محاذ کی د صالح محمد خان په مشری عسکرو استول شول او صالح محمد خان ته یې امر وکړ چی د مولانا عبدالرزاق علیه رحمه بې مشوری به هیڅ کار هم نه کوی مولانا عبدالرزاق چی په

مولانا عبدالرزاق اندړ دېر مشهوره دی د افغانستان له جیدو علما و ځخه دی او د انګریزانو په دښمنی کی نړیوال شهرت لری په رباضباتو کي بې غښ نوم درلود د مولانا ګنګوهي «رح» شاګرد و او د هغه په لارښونه او تربیه یې د انګریزانو خلاف مبارزه پیل کړی وه انګریزی دایرة المعارف (هو از هو) وو دده په هکله لیکی چی : نوموری تکړه عالم د شاهی مدرسی مدرس او د انګریزانو سخت مخالف وو ده به همیشه په آزادو قبایلو کی خپل فعالیت کاوه او ټولو قبایلو ده ته سخت احترام درلود.

امان الله خان هم د یوه مکتوب په ذریعه له مولانا صاحب ځخه هیله وکړه چی د قبایلو په تیارولو کی مرسته وکړی او د انګریزانو خلاف جهاد پیل کړی، مولانا صاحب هم خپل فعالیت پیل کړ یو هیئت یې د دیر نواب اورنګذیب خان ته واستوی چی خپله په دې جهاد کی برخه واخلی بل هیئت یې د مولانا فضل محمود مخفی په مشرتابه سوات ته ولیږلی چی د آخند صاحب د لمسی میا ګل صاحب لخوا مجاهدین تیار شی، امب او درېند ته یې هم هیئت واستوی یو بل هیئت یې د بونیر او کوهستان سیمو ته ولیږی ، دغه

راز یې یو هیئت د باجوړ خان محمد جانخان ته ولیږی ، پخپله مولانا صاحب په آزادو قبایلو کی جرګه راوبلله تر ټولو لویه جرګه یې د چارمنګ په سیمه کی چی د باړی د ملا صاحب په نفوذ کی وه دایره کړه او علما ، سادات او مشایخ او نور قومی مشران پکښې شریک وو جرګې ځو مادې په لاندې ډول تصویب کړی :

لومړی ماده : تر ځو ټول افغانستان له انګریزی استعمار نه خپلواک شوی نه وی مبارزه او جهاد به نه پریږدو .

دوم : د هر کور له ځلورو نفرو به یو نفر جهاد ته ځی او یوه میاشت وروسته به هغه تبادله کیږی او په ځای به یې بل نفر جهاد ته ځی او دا سلسله به تر پوره آزادی پوری جریان لری.

دریم : هر نفر چی جهاد ته ځی باید د یوی میاشتی خوراکه او نور ضروریات له خپل ځان سره خپله واخلی.

څلورم: د هر قوم غښتلی او تجربه کار سړی به د هغه قوم د قوماندان په صفت ټاکل کیږی .

پنځم : د هر قوم مشری به د هغه قوم د روحانی او عالم شخص په لاس کی وی تر ځو خلک یې پوره اطاعت وکړی .

شپږم : هر قوم به د خپل نفوس په اندازه بسپنه ورکوی.

اووم : د ټولو قبایلو عمومی قومانده به د الحاج مولانا عبدالرزاق په غاړه وی، نو په دې اساس مولانا صاحب د مامندو او چارمنګ د مجاهدینو قومانده د باړی ملا صاحب ته ور وسپارله او د نورو قومو د لښکرو قومانده یې د ترنګزو حاجی صاحب مولانا فضل واحد ته وسپارله چی هغه به د شبقدر او دیر شاو خوا حمله کوی د سالارزو مجاهدین به د مولوی امیر الدین صاحب په قومانده خپل جهاد کوی، او ټول قبایلی لښکر به له بیلا بیلو لارو ځخه پر پیښور باندی حمله کوی مولانا **عبدالرزاق صالح محمد خان ته لیکلی وو چی تر ځو مو اطلاع در نه کړو پام کوه چی پر ډکه جنګ شروع نه کړی خو متاسفانه پخوا له دی چی قبایلی لښکر او نور قومونه خپل ځانونه سره برابر کړی صالح محمد په ډیره بی تدبیری سره پر ډکه حمله وکړه چی بیا یې د انګریزانو په مقابله کی مقاومت ونشوای کړای او له خیبره بیرته ډکی ته را** شاته شو او بوازې د پښې د یوې ګوتې په زخمی کیدو سره یې خپل عسکر په ډیره بې نظمی را شاته کړل او انګریزانو زړه پیدا کړ غوښتل یې په جلال اباد حمله وکړی خو نورو مجاهدینو یې د جنرال عمر ناصر په مشری مخه ونیوه او په دې ډول د مولانا صاحب پروګرام چی تر کشمیره او راولپنډۍ پورې یې ځلور لکه لښکر تیار کړی وو او د پیښور د نیولو مکمل پلان یې ترلی وو د صالح محمد خان د بې نظمی او بې تدبیری او په عین حال کی د نه مشوری په وجه شند شو امان الله خان صالح محمد خان معزول کړ ، بیا مولانا عبدالرزاق د کنړ له لاری ډکی او جلال آباد ته راغی او کله نا کله انګریزانو تعارضونه **کول ددی لپاره چی مجاهدین مقاومت وکړای شی مولانا عبدالرزاق ټینګ خط ورته جوړ او منظم کړ او د مجاهینو د اکمالاتو منظم پلان یې ترتیب کړ چی بیا**

وروسته د ټولو خوښې سره، مولانا رحمة الله علیه غوښتل چی بیرته ولاړ شی او قبایلی لښکر بیا منظم او په کار پیل وکړی خو له بده مرغه د امان الله خان لخوا له انګریزانو سره د متارکې او سولې اعلان وشو او دې خبرو د ټولو محاذونو مجاهدین مایوسه کړل.

که دی جهاد ته ادامه ورکړل شوې وای نو په یقینی ډول به اوسنی اسلام آباد کشمیر او د جنوب لخوا تر ډیره غازیان او د کندهار له لاری د کوټې او بولان تنګی پوری مجاهدین رسیدلی وای، خو د افغاناتو لپاره تل یوه ستونزه دا سې وی چی کامیابی ته راورسیږی د خپنې پښو لاسو لخوا یې ټول ارمانونه په اوبو لاهو شی په دې ډول مو په لنډ ډول د علماو هغه جهادی کارنامی او مبارزی چی د انګریزانو په مقابل کی یې تر سره کړی دی ستاسو خدمت ته وړاندی کړلی او موږ دا نتیجه اخلو چی د افغانستان مسلمان او مومن **ملت هر وخت او په هره مرحله کی د علماو وو قیادت منلی لکه د روسانو او کمونستانو په مقابله کښې او اوس د شر او فساد په وړاندې او آینده هم موږ په دې باور یو چې زموږ غیور ملت به د** هر جابر او مستکبر قوت په وړاندې د اسلام د سپیڅلې دین د حفاظت لپاره د علماو او مشایخو تر شا ټینګ ولاړ وی.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

■

په رواني اونۍ کې به د عصبي جراحي او یورولوژي ...

ودانۍ کې د هیوادوالو د خدمت وړ لري.

د نوموړي روغتون رئیس محترم ملا آقا محمد آخند د روغتون د اوسني وضعې په هکله موږ ته داسې معلومات راکړل فعلاً په دې روغتون کې د عمومي جراحي، عصبي جراحي، یورولوژي او داخلي بخشونه فعال دي او هره ورځ په هر بخش کې مریضان معاینه، بستر او تداوي کیږي او هره ورځ په اوسط ډول د پنځو نه تر اوو تنو پورې مریضانو پدې شفاخانه کې عملیات کیږي. دا باید ووایم چې پدې شفاخانه کې د عصبي جراحي او یورولوژي بخشونه فعال دي چې په نورو روغتونو کې دغه دوه بخشونه نشته او د ټولو شفاخانو څخه دا مریضان علي آباد روغتون ته انتقال کیږي او هم د اعصابو متخصصین هم لرو انشاء الله په همدې ورځو کې د عقلي او عصبي بخش بسترونه هم فعاله کیږي او همدا رنګه به د عصبي جراحي او یورولوژي بخشونه پدې هفته کې فعال شي.

محترم ملا آقا محمد ددې روغتون د اداري پرسونلو په هکله داسې ووېل: په دې روغتون کې تقریباً ٤۸ ډاکتران په مختلفو بخشونو کې وظیفه اجرا کوي. ۲٤ ساعته نوکر یوال په شفاخانه کې موجود دی او د مریضانو مشکلات رفع کیږي او تقریباً ٤۰ تنه نرسان ۲۵ تنه مامورین او ٤۵ تنه فني او غیر **فني کارګران پدې روغتون کې په خدمت لګیا دي.**

همدارنګه محترم رئیس صاحب د علي اباد روغتون پوانۍ ودانۍ د جوړولو غوښتنه وکړه او ووېل: لکه چې مخکې وویل شو په سابقه علي آباد کې تقریباً ٦ مختلف بخشونه فعال او د مریضانو ټول مشکلات رفع کیدل که چیرته نوموړي ودانۍ بیا ودانه او فعاله شي دا به یو ستر ملي او تاریخي خدمت وي ځکه چې علي اباد روغتون زموږ د هیواد یو ستر تاریخي تخصصي طبي مرکز وو.

په پای کې محترم ملا آقا آخند د امارت له لوړه رتبه چارواکو او خیریه موسسو څخه د مرستو غوښتنه وکړه او وېي ویل: زموږ غوښتنې د امارت له مسوولینو او خیریه موسسو څخه دا دي چې له دې شفاخانې سره مالي او مادي مرستې وکړي ځکه چې پدې شفاخانه کې با تجربه ډاکتران موجود دي او ۲٤ ساعته د مریضانو په تداوي کې برخه اخلي او دوه عمده بخشونه چې په نورو شفاخانو کې نشته لکه جراحي اعصاب او یورولوژي نو د علي آباد روغتون بیه تجهیز یو ضرورت دی چې باید په دې هکله هیڅوک خپلې مرستې ونه سپموي.

په تعداد ۲۸۳۰ ...

نود حلقه حوض و سایر منابع آب در مربوطات آن ولایت توسط کارمندان ریاست احیا و انکشاف دهات ولایت جوزجان به همکاري اداره یونیسف کلوریشن گردیده و فعلاً زمینه استفاده بهتر آب آشامیدني براي باشنده گان آنولایت تامین شده است.

کلوریشن منابع آب در ولایت جوزجان سه هفته دوام نمود.

تیم فوتبال اخوت ...

شده بود تیم فوتبال مدرسه اخوت **افغانستان ترکیه حایز مقام اول تیم فوتبال فردین حایز مقام دوم و تیم فوتبال عدالت حایز مقام سوم گردیدند.**

در اخیر مسابقات کپهاي قهرماني و تحسین نامه ها براي تیم هاي برنده توزیع شده و ابراز امیدواري گردید که با تلاشهاي بیشتر در رشد و غنا مندي ورزش نقش ارزنده را ایفا نمایند.

منار جام یکي از ...

تن از جهان گردان خواهان تماشاي آن را از نزدیك دارند.

خبرنگار ما جهت اگاهي هموطنان عزیز از وضعیت فعلي منار جام و غیره آثار باستاني ولایت غور صحبتي را با محترم گل آقا کریمي که از جمله یك تن از باشندگان سرشناس ولسوالي پساپند ولایت غور بوده و اخیراً از منار مذکور دیدن به عمل آورده انجام داده است **که خلاصه آن خدمت علاقه مندان محترم تقدیم میگردد:**

محترم کریمي در آغاز چنین ابراز داشتند، منار جام را از نزدیك دیدم متاسفانه که از سبب حوادث طبیعي و جنگ هاي سال هاي اخیر صدمات زیاد را متحمل گردیده بود به نسبت شدت سیلاب ها تهداب آن به اندازه یك متر به طرف داخل تخریب گردیده و منار به طرف شمال غرب کج و مایل گردیده است همچنان دیوار هاي دفاعي اطراف منار نیز از بین رفته بود و سیلاب مستقیماً به تهداب منار در حال تماس میگذاشت همچنان در رواق هفتم داخل منار درز بزرگ رونما گردیده که خطر انهدام آنرا زیاد ساخته است.

نقاشي ها و نوشته ها روي منار نیز تماماً فرو رفته است اگر آب خیزي زیاد شود ممکن منار در بین دریا قرار گیرد و به سقوط مواجه گردد. محترم کریمي علاوه نمودند بر علاوه منار جام، قصر دختر پادشاه که در بالاي کوه خاره یا فیروز کوه نزدیك منار جام موقعیت دارد نیز از جمله آثار ارزشمند باستاني کشور مي باشد که البته در اطراف خرابه هاي این قصر از جانب بعضي اشخاص بطور مخفیانه کندن کاري نیز صورت گرفته است که قابل تشویش مي باشد در پایان محترم کریمي از مسؤولین محترم امارت اسلامي افغانستان تقاضا نمود تا اگر لطف فرموده در ترمیم دیوار دفاعي منار جام اقدام جدي نمایند و به منظور جلوگیري از انهدام منار یك اتکا به آن داده شود و همچنان از کندن کاري در ساحه مذکور به صورت جدي جلوگیري به عمل آید و منار مذکور براي تماشاي دو باره توریستان و جهانگردان مساعد ساخته شود براي رشد اقتصاد ملي و تحکیم روابط با جهانیان راهي خوبي خواهد بود، تا گفته نباید گذاشت که زحمات اهالي دره هاي جام، بیدان و اوشان ولسوالي شهرك که در حفظ و نگهداشت آثار تاریخي مذکور تا حد توان کوشش نموده اند قابل تمجید مي باشد خداوند (ج) براي شان توفیق بیشتر اعطا فرماید.

سیمینار [illegible] ...

اختتام پذیرفت.

محفل مذکور در محوطه مدرسه ثانوي سید محمد شاه مینه با تلاوت آیاتي چند از کلام الله مجید آغاز شد سپس محترم مولوي عبدالرقیب «جهید» عضو علمي تعلیمات اسلامي و دارالحفاظ هاي ریاست معارف ولایت کابل به نمایندگي از آن ریاست تدویر همچو سیمینار ها را در جهت بلند بردن سطح آگاهي، تجارب مسلکي استادان و کادر هاي تعلیم و تربیه مطابق اهداف و برنامه هاي فرهنگي امارت اسلامي بمثابه یك گام مثبت و ارزنده تلقي کرده و مسؤولیت هاي عظیم استادان و مربیون مسلمان را در مورد تعلیم و تربیه شرعي نو نهالان کشور منگاه با اصول و نورم هاي جدید مستورانه مشخص ساختند متعاقباً محترم مولوي فضل الله یکتن از مسئولین سیمینار به نمایندگي از دیگران از حسن فعالیت هاي استادان سیمینار ابراز امتنان و قدرداني نموده و وعده گذاشتند که در عرصه تعلیم و تربیه و آموزش طالب العلمان مدارس از همچو میشود هاي موثر و مفید استفاده اعظمي خواهیم کرد.

بعداً محترم استاد رحمت الله یکتن از استادان سیمینار بیانیه خو را ایراد کردند. در اخیر تصدیقنامه هاي استادان که درین سیمینار شامل بودند توزیع گردید. محفل با دعائیه محترم مولوي حضرت مدیر مدرسه ثانوي بگرامي خاتمه یافت.

از جانب [illegible] ...

مردم متدین ولسوالیهاي گوسفندي و سنگ چارك تدویر یافته بود، محترم والي ولایت جوزجان طي صحبت همه جانبه اش اقدامات نیك و خیر خواهانه و همچنان سیاست هاي صلحجویانه امارت اسلامي افغانستان را مفصلاً توضیح و تشریح نمود.

بالمقابل تني چند از بزرگان ولسوالي ها، گوسفندي و سنگ چارك بالترتیب طي صحبت هاي شان اعمال تخریبکارانه مخالفین که باعث ادامه جنگ و نا آرامي در کشور میباشد شدیداً نکوهش نموده و یك بار دیگر به همکاري قاطع و همه جانبه شان با امارت اسلامي افغانستان تاکید ورزیدند.

د اطلاعاتو او کلتور ...

توان سره سم د هیواد د اسلامي فرهنګ د لا زیاتي بډاینې، پیاوړتیا او ودې په لاره کې د هر راز همکارۍ ژمنه کوو او باید تاسې هم په هیواد کې د شرعي نظام د ساتنې او دفاع او د اسلامي امارت د ارزښتونو او هدفونو د عملي کولو په خاطر خپله مبارزه چټکه کړئ.

قوماندان بسم الله ...

جنګ و ویراني کشور نه شود و بایست که از صفوف باغیان جدا شود و با امارت اسلامي یکجا شوند.

معاون کمیته ...

همکاري هاي بیشتر امارت اسلامي در رابطه به توزیع تخمهاي بذري در ولایت بامیان، سروي بیجا شده گان و در بخش هاي صحي میباشیم.

در جریان ملاقات محترم معین وزارت امور خارجه از کمك ها و مساعدت هاي آن کمیته که به طور مثمر و بیطرفانه انجام میدهد ابراز قدرداني کرده اظهار نمود که امارت اسلامي افغانستان همیشه از کار و فعالیت **مؤسسات بین المللي استقبال نموده و تاکید مي ورزد که مؤسسات متذکره با مشوره مقامات امارت اسلامي کار و فعالیت نماید.**

د لغمان ولایت د دولت ...

مولوي عبدالصبور او محترم مولوي محمد کبیر په وار سره د خپلو وینااوو په ترځ کي د اسلامي امارت د مخالفینو اسلامي ضد او بشري ضد عملونه چي په تیروخت کي د خلکو د ځو روني او د فساد د منبع په توګه ددغي ولسوالي په مربوطاتو کي شوي و وغندل.

د مخالفینو په ضد بې جهاد او مبارزه لازمه وګڼله او د هر ډول د سیمې د ښېګڼو او له منګه وړلو په لاره کي بې ددغي ولسوالي د خلکو او عالمانو د تیاري په باب واړ ورکړ وروسته د دولت شاه ولسوال محترم مولوي محمد حسین منصور د هغو له نیکو ولولو او کارنامو نه چي د اسلامي امارت د لوړو هدفونو د تحقق په لاره کي بې ځان تیریدنه ښوولي ده قدرداني څرګنده کړه غونډه د دعائیې په لوستلو سره پایته ورسیده.

بعد از چندین سال ...

به گفته یك تن از مسؤولین ریاست متذکره امیدواریهاي زیاد است که در آینده نزدیك نماینده گي هاي سکتور خصوصي در کشور ترکمنستان و شهر بندري ترمز ازبکستان نیز فعال و آماده خدمات ترانسپورتي گردد.

خبر مي افزاید: ریاست ترانسپورت سکتور خصوصي شش نماینده گي خارج از کشور در شهر هاي ترمز، زاهدان، مشهد، پشاور، کویته و جمهوري ترکمنستان داشته که از جمله نماینده گي هاي پشاور و کویته مجدداً به فعالیت خدماتي خویش آغاز نموده است.

در خبر آمده است: بعد از استقرار حاکمیت امارت اسلامي در کشور بالاثر توجه هیأت رهبري ریاست عمومي حمل و نقل به تعداد پنجاه و پنج هزار عراده وسایط باربري و مسافر بري به اساس پروگرام منظم در مسیر هاي مختلف کشور فعالیت دارند که البته این رقم با توجه به سالهاي رژیم هاي گذشته و نیز با در نظر داشت خرابي جاده هاي اصلي و شاهراه هاي عمومي دست آورد بزرگي براي کارمندان بخش مربوط امارت اسلامي در عرصه تقویه بنیه اقتصادي کشور و جلب بیشتر تجار ملي از خارج کشور بحساب مي آید. و باید اضافه گردد که فعلاً نظم ترانسپورتي بخاطر انتقال اموال امتعه مورد نیاز هموطنان به شکل بهتر و مطمئین تر بوجود آمده و وسایط باربري و مسافربري بطور منظم به اساس پروگرام طرح شده ریاست سکتور خصوصي در طول شب و روز در مسیر هاي مختلف بدون هیچگونه موانع در حرکت مي باشد. منبع علاوه کرد: هنگام افتتاح نماینده گي ترانسپورت سکتور خصوصي مقیم کویته محترم ملا حبیب الله آخند رئیس عمومي حمل و نقل محترم الحاج ملا علي اخند مسؤول عمومي ترانسپورت افغاني مقیم کویته قونسل افغاني مقیم آن شهر برخي از علما و نماینده گان اتحادیه هاي باربري اشتراك داشتند.

د خیر خانه مینه ...

ډېري د اینښودلو په مراسمو کي د حج او اوقافو وزارت په چارواکو سر بیره ددغي سیمي یو شمیر دیندارو خلکو هم ګډون کړي و.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

پیښې او پرمختګونه — حادثات و انکشافات

یك گوینده مجارستاني پنجاه ساعت بدون وقفه به اجراي پروگرام رادیویي پرداخت

یك گوینده رادیوي مجارستان پنجاه ساعت بدون وقفه به اجراي پروگرام رادیویي پرداخت.

یکي از مجریان پروگرام هاي رادیویي دولتي مجارستان با اجراي بدون وقفه به مدت پنجاه و نیم ساعت ریکارد مدت زمان اجراي برنامه توسط یك گوینده رادیویي را شکست و نام خود را در کتاب ریکارد ها ثبت کرد. این نطاق سي و دو ساله و مجري پروگرام هاي رادیویي مجارستان نیمه شب جمعه گذشته عقب میکروفون پخش مستقیم رادیو نشست و بدون وقفه به اجراي برنامه پرداخت تا اینکه صبح روز دوشنبه در حالیکه از فرط خستگي صدایش قطع شده بود و دیگر توان صحبت کردن نداشت دست از کار کشید.

بیست و چار تن از کارکنان این شبکه رادیویي که طبق پروگرام شفت هر چار ساعت یکبار تبدیل مي شدند از کار آن نطاق نظارت مي کردند طبق قانون ثبت ریکارد این گوینده تنها حق داشت در هر هشت ساعت به مدت پانزده دقیقه استراحت کند. ریکارد قبلي ثبت گویند گي رادیویي به مدت طولاني متعلق دوشیزه یي از رادیوي بودا پست که مدت پنجاه ساعت گوینده گي بدون وقفه داشت.

په کوسووا کي الماني مارك د راکړي ورکړي د رسمي وسیلي په توګه اعلام شو

د ملګرو ملتو سازمان د کاسووا په ایالت کي الماني مارك د راکړي ورکړي د رسمي وسیلي په توګه اعلام کړیدي.

په کاسووا کي د ملګرو ملتو د هیأت امر برشارد کوچیز د کاسووا لومړني مرکز ګمرك د مقدونیي او کاسووا په پولو کي پرانست چي د یوګوسلاویا د حکومت تر اغیزي لاندي ندي. د بلګراد حکومت د یوګوسلاویا له ولکي نه د کاسووا د ایستلو په خاطر په ملګرو ملتو باندي سخته نیوکه وکړه او دا عمل بي د یوګوسلاویا په واکمني باندي په ډاګه تیري بللي دي.

د بیهقي د کتابونو خپرولو د ریاست خبرتیا

د بیهقي ریاست په پام کي لري چي په راتلونکي کي د خاطرو او یادونو تر سر لیك لاندي د کابل په ښار کي یو سیمینار جوړ کړي. نو له هندي امله هیواد نه بهر او د ننه ټولو لیکوالانو او هیوادوالو ته خبر ورکول کیږي چي د کمونستي رژیم او د تیر ائتلافي دوران د ظلمونو په باب خاطري او یادونه د مقالو په ډول د روان کال د رجب المرجب د میاشتي تر وروستي نیټي پوري ۱۳۷۸ د عقرب له ۱۷ سره برابره ده په مرکز کي کابل هوټل ته مخامخ د بیهقي د ریاست په پته او په ولایتونو کي د اطلاعاتو او کلتور ریاستونو ته او په بهر کي د اسلامي امارت نماینده ګیو ته وسپاري.

د سیمینار د پیل کیدو نیټه وروسته اعلانیږي. را استول شوي مطالب د یو مجموعي په ډول خپریږي او د غوره مضمونو لپاره جایزي هم په پام کي نیول شوي دي.

تبصره

د رباني د اداري د بیا ژوندي کولو لپاره د هندي او فرانسوي چارواکو هڅې

د ملګرو ملتو تولنې په بې انصافۍ سره د افغانستان کرسي د افغان مسلمان او مېړني ملت د نمایندګانو په ځای د شړل شوو اشخاصو په واک کې ورکړې ده؛

د دغې ټولنې نفوذ لرونکي غړي چې دغه نړیواله موسسه یې په خپل واک کې اخستې ده او له نړیوال بې طرفه دریځ او اعتبار نه یې غورزولې ده هڅې کوي چې د خپلو ګټو او مقصدونو لپاره کار ور څخه واخلي نو ځکه یې د ټولو نړیوالو اصولو او نورمونو په خلاف د یوه نامتو او باتور ملت حق (د افغانستان کرسي) د خپلو شومو او اسلام دښمنو مقصدونو لپاره د مزدورو افرادو په واک کې ساتلې ده، ددغه شرمېدلي عمل په خلاف د نړۍ د برو خپلواکو سیاسي کتونکو له پیل نه غږ وچت کړی دی او ښکاره کړې یې ده چې نفوذ لرونکو هیوادونو په تېره امریکا په دغه کار سره ددغې نړیوالې موسسې اعتبار بیخي له منځه وړی دی؛

په دغو وروستیو وختونو کې دغه لړۍ توندې شوې ده او خپلواکو سیاسي کتونکو ددې خبرې اصولي دلیلونه وړاندې کړي دي چې طالبان (د افغانستان اسلامي امارت) دا حق لري چې دغه کرسي د هغوی په واک کې ورکړه شي ځکه هغوی په هیواد کې امنیت ټینګ کړی دی، قوانین یې نافذ کړي دي، د خلکو هر څه خوندي دي او د بیا ودانولو چارې یې پیل کړې دي، د هیواد پلازمینه او زیاته ځمکه په واک کې لري...؛

ددغو اصولي نیوکو لړۍ چې لا اوس هم روانه ده د ملګرو ملتونو غړي هیوادونه د خپل وجدان له شرمنده ګۍ سره مخامخ کړي دي او د ذهني کش مکش په ترڅ کې یې داسې میلان ښکاره کړی دی چې په دغه هکله په خپل دریځ له سره کتنه وکړي او ځینو یې د رباني ډلې ته دا ګیلې هم کړې وې چې په دغه سیاسي ملاتړ کې موږ له شرمندګۍ سره مخامخ یو، ځکه چې نه یوازې په هیواد کې ډېره لږ ساحه تر واکمنۍ لاندې لرئ هغه هم د ټوپک په زور بلکې لږ تر لږه د کاغذ په مخ هم د یوه رسمي حکومت تشکیلات نه شئ جوړولای، له دې امله کېدای شي د افغانستان کرسي د ملګرو ملتو په راتلونکې عمومي غونډه کې د تاسې له لاسه ووزي او طالبانو (د افغانستان اسلامي امارت) ته وسپارله شي او یا تشه وساتلای شي؛

له دې امله له رباني او د هغه له مشر!! احمد شاه څخه لاره ورکه ده غونډې کوي، **اخباري غټ غټ سر لیکونه د پیسو په ورکولو سره چاپوي، خپلو کافرو ملاتړو هند، فرانسې او نورو ته د استغاثې چیغې وهي او نتواني وراستوي چې هلته! زمونږ غم وخورئ ...**

له دې امله د فرانسې حکومت پلاوی، چې پوځي او سیاسي متخصصین یې کې دي، پنجشیر ته یې ځانونه ورسول چې خپل پخواني مزدور او د اسلامي شریعت دښمن احمد شاه نا مسعود ته د هر ډول مرستو ډاډ او د افغانستان د ملت په خلاف د ورانیو، بربادیو او تباهیو نوي پلانونه او مشورې ورکړي، فرانسه د قیمتي کانو لاس ته وړلو او نورو کفري مقصدونو لپاره له ډېر پخوا نه د مسعود د چاپیریال په کنټرول کې لري او د ورک شوي شوروي د تیري په وخت کې یې د پاخه عمر استخباراتي متخصصین، بې مخي ښځي او زیاتې پیسې په پنجشیر کې د مسعود په مرکز کې لیږل شوي دي، کېدای شي له شوروي پوځونو سره د احمد شاه مسعود پروتوکولونه د دوی په مشوره شوي وي.

د هندي چارواکو هم د خپلو انتخاباتو د تاوده کمپیان په سختو شیبو کې د رباني د فریاد او ژړا په ځواب کې د افغانستان اسلامي امارت ته د اقتصادي ستونزو پیدا کولو لپاره هند ته د اریانا افغان هوایي شرکت الوتنې وځنډولې او له بله پلوه یې په بیړه امریکې ته یو پلاوی واستاوه چې له امریکې نه وغواړي چې په ملګرو ملتو کې د افغانستان کرسۍ د رباني له لاسه ونه باسي او د رباني د شرمېدلي پاینت لپاره د امریکې ملاتړ نور هم پسې ټینګ کړي، دغه نابریالي هڅې کې څه هم له اسلامي شریعت او اسلامي نظام سره د کفري نړۍ دښمني لا پسې جوته کوي خو د بدمرغه رباني لپاره بدمرغي دي ځکه چې رباني او ډله یې اوس د نړیدلي پاڼ» علي شفا جرف هار» په څنډه ولاړ دي، له یوې خوا نه یې د اسلامي امارت مومنو ځواکونو د فساد او شیطاني مورچلونه په شمالي ډنډ کې په تدریج سره وروراني کیږدي دي او په مخ وړ روان دي له بلې خوا نه یې تکړه او نامتو قوماندانان د اسلامي امارت د **حقانیت په پوهیدلو سره یو په بل پسې له سلهاوو افرادو، درندو او سپکو وسلو سره د اسلامي امارت له پر مخ تلونکو مومنو ځواکونو سره ملګري کیږي او د جهاد په لیکو کې عملاً د ربړي نو څنګه به وکولای شي چې دغه وړې یې شړې شي ؟ !**

د هغې ورځې په هیله چې د رباني او مسعود د فساد خالي ټولې وټړیږي، مومن ولسونه یې له شر او فساد نه د ژغورنې خوشالي او ختمونه وکړي او کفري ملاتړ کونکي یې نور هم سر ټیټي او رسوا شي.

و ما ذلک علی الله بعزیز

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Editor: Malyar Kakal
Printed by: Dawlati Printing Press